′# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

*www.afgazad.com*　　*afgazad@gmail.com*

| *Political* | *سیاسی* |
|---|---|

فقیر
۲۸ دسمبر ۲۰۲۴

## د مبارکی په ځای پیغور

افراطیت، تروریزم، ارتجاعی اقدامات او وطن سره خیانت هیڅ ځای او د هیچا له خوا ملاتړ نه لري. څه موده مخکي بنګلادیش کي لوی سیاسی تحول راغی، دلته افغانستان کی د طالب پلویانو خوشحالیانی شروع کړی. دوی فکر کاو چی د شیخ مجیب لور(شیخ حسینه) د پاکستان مخالفه وه، نو دا نوی حرکت به د پاکستان دوست شي، خو بنګلادیش داسی لاربنود او مشر وموند چی اقتصاد کی د نوبل جایزه لري. ده د بنګلادیش اقتصاد کي د پیښ شوي ځنډ او رکود مخه ونیوله. (اکونومیست) مجلي په دې کار وستایه او ملت د هوسایني احساس وکړ. افغانستان کي واکمني ډلي ته یي پام هم ونه کړ، بلکي لازیاتي یي د افغانستان په حال تأسف وښود. بل ځل سوریه کی بدلون راغی دلته حاکمي ډلي فکر وکړ چی نړۍ کي یي اقلاً یو بل پک د ځان په شان وموند. خو هغه ډېر ژر وویل چی سوریه به دوهم افغانستان نشی. هغه په ښکاره وویل چي نجونی د تحصیل حق لري.

د احمد جولانی پېغور باید د افغانستان حاکمي ډلي ته ټکان ورکړي. دوی باید پوه شي چي د دوی په شان وروسته پاتي ذهنیت بل په نړۍ کي نشته. دوی به نه بنګلادیش، نه ترکیه او نه سوریه او حتا ایران کي د ځان په شان سرتمبه او شاته زوروهونکي متعصب او د ترقی دښمن دوستان ونه مومي. نن ورځ هیوادونه د خپلو خلکو لپاره کار کوي او خدمتګاره اداره جوړوي. اوس چي پنجاب په افغانستان برید وکړ دوی نور هم ملت ته وشرمېدل. د دوی لوی تبلیغات د خوشتیپي د کانال په اړه دی حال دا چي دا پروژه پنځوس کاله مخکی طرح او برآورد شوي وه او لس کاله مخکی عملاً پیل شوی وه. تکنالوژی، بودجه، انجنیران، وسایل او کارکوونکی ورته مقرر او یوه برخه کاریی هم په مخ تللی و. بل تبلیغ یی د کانونو قرارداد کول دی. اما د دغو قراردادونو او د کانونو پلورلو په ګټه او مفاد کی د افغانستان خلک شریک نه دي. یعنی دغه ملی شتمنی د پردي کیدو په حال کي ده. کیدای شي لږ موده وروسته هم خوشتیپه او هم د کانونو پلورل دوی ته کوم بریالیتوب نه، بلکي یو بل پیغور وګرځي. حکومتونه په متخصصینو، مسلکی ماهرینو، درایت، پراخ نظری، انعطاف او چارو کی دقت، عملی پلان او تدبیر، پوهه او استقلالیت باندی چلیږي، نه په استبداد، اختناق، دوکه او شاتګپالی باندې.